Updated September 2026 - "Pashtu"

خپل حقوق وپېژنئ



میډیکېډ (Medicaid): څه شی بدلیږي او کله

په ۲۰۲۴ او ۲۰۲۷ کلونو کې د میډیکېډ (Medicaid) لپاره نوي مقررات پلي کیږي.

هغه څه چې تاسو باید پرې پوه شئ او څه تمه باید ولرئ.

د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر له لومړۍ نیټې څخه پیل کیږي :

لاهم د میډیکېډ لپاره وړ یاست:

- کیوبا/هایټي ګډونوال
- د کوفې مهاجرین
- په قانوني توګه مقیم ماشومان
- قانوني دایمي اوسېدونکي (هغه کسان چې د پنځو کلونو د انتظار شرط پرې تطبیقېږي)
- د CHIPRA 214 آپشن لاندې امیدواره میرمنې

د نویو کډوالو د وړتیا محدودیتونه:

ځینې قانوني کډوال چې د میډیکېډ لپاره وړ وو نور نشي کولی د میډیکېډ منظم پونښنې ترلاسه کړي، پشمول د کډوالو او پناه غوښتونکو، د کورني تاوتریخوالي یا قاچاق څخه بچ پاتې شوي کسان، بشري پیرولز، او نور.

د نیو میکسیکو د روغتیا پالمارنې اداره د هغو اشخاصو لپاره د پونښنې پروګرام رامینځته کوي چې د میډیکېډ د بدلونونو څخه اغیزمن شوي دي . او د نیو میکسیکو روغتیای بیمه ، BeWell کې د نوم لیکنې په اړه به د پوست او متن له لارې اړیکه ونیسي.

د ۲۰۲۷ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه پیلکیږي:

د بیمې د نوي کولو لپاره: : د ۱۹ څخه تر ۶۴ کلونو پورې لویان باید د میډیکېډ (Medicaid) روغتیایي بیمه د ۱۲ میاشتو پر ځای هر ۶ میاشتې وروسته نوی کړي.

- د امریکا اصلي اوسېدونکي او نورد میډیکېډ (Medicaid) ترلاسه کوونکي له دې بدلون څخه مستثنی دي.

(Retroactive Coverage): کله چې یو کس د میډیکېډ (Medicaid) لپاره غوښتنه کوي، نو دا پروګرام معمولاً د غوښتنې له سپارلو څخه مخکې د دریو میاشتو پورې طبي لګښتونه تر پونښنې لاندې نیسي. اوس دا مقررات د بدلون په حال کې دي:

- لویان (د ۱۹ څخه تر ۶۴ کلنۍ پورې): د تېرې یوې میاشتې لپاره د روغتیایي بیمې پونښنې. (retroactive coverage)
- ټولې نورې ډلې (د ماشومانو او امیدواره ښځو په ګډون): د تېرو دوو میاشتو لپاره د روغتیایي بیمې (retroactive) پونښنې.

د کار د راپور ورکولو اړتیاوې: د ۱۹ او۶۴ کلونو ترمنځ اکثر لویان باید راپور ورکړي چې دوی په میاشت کې ۸۰ ساعته کار، زده‌کړه، روزنه یا ټولنیز خدمت ترسره کوي.

- د دې اړتیا لپاره ډېرې استثناوې شتون لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره زمونږ د کاري اړتیاوو اړوند معلوماتي پاڼه وګورئ. که تاسو فکر کوئ چې د دې استثناوو څخه د یوې لپاره وړ یاست، نو د نیو میکسیکو د روغتیایی پالمارنې اداري (HCA) ته خبر ورکړئ.

د دې بدلونونو او د روغتیایی پالمارنې د نورو حقونو، سرچینو او خوندیتوبونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، دی وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ: nmtogether4health.org.

پونښتنې لرئ؟ له 505 255 2840 شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا nmtogether4health.org وګورئ.

د نیو میکسیکو د قانون او بې وزلۍ مرکز په همکارۍ سره جوړ شوی.